**د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د کاردان امپایر د لوژستیکی خدماتو شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د معلوماتي تکنالوژی آمریت لپاره د Manage Engine Event Logs Analyzer چمتو او نصبولو قرارداد د کاردان امپایر د لوژستیکی خدماتو شرکت ته ورکړل، چې دا شرکت د 52650 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې په فتح الله قلع د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (801,000) اته سوه او زر افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به قرارداد منعقد نه شي.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 0093(20)2100305/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت www.dab.gov.af